# د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

# بنکلي اَخلاق

**20-June-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 20 جون، كال 2024ء (13 ذو الحج، 1445ھ) د پاكستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو كښې كيدونكے بيان

# د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ ښكلي اَخلاق

پهٔ دې بيان كښې به تاسو زده كړئ...

- ــــ صحابهٔ كرامو ته د بد ويونكو انجام
- ــــ د اِسلام خُلق حيا ده
- ــــ پهٔ حساب كښې د اسانئ دريې اسباب
- ــــ د قيامت پهٔ ورځ د معافئ موندلو نُسخه

پيشكش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! بے شکه د قيامت د وحشتونو او د حساب کتاب نه زر نجات حاصلوونکے به هغۀ وي، چا چې په ما باندې په دُنيا کښې په کثرت سره دُرود لوستلے وي-[1]

دولت جو چاہو دونوں جہاں کی | کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد
روزِ قیامت میزان وپُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد
پوچھے گا مولیٰ لایاہے کیا کیا | میں یہ کہوں گا نامِ مُحَمَّد[2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات** د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے-[3]

---

1 ... جمع الجوامع، جلد:9، صفحه:129، حديث :27684-

2 ... جمع الجوامع، جلد:9، صفحه:129، حديث :27684-

3 ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 -

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ګستاخ مخ تور شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت سعيد بن مُسَيّب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تابعي بزرګ دے يعنې هغوئي د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د زيارت او صحبت سعادت حاصل کړے دے، ډير نيک، عبادت ګزاره او ولیِّ کامِل وو- حضرت علي بن زيد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زما سعادت نصيب شو او زهٔ د حضرت سعيد بن مُسَيّب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم، هغوئي د يو ګس پهٔ لور اشاره وکړه او اوئې فرمائيل: اے علي بن زيد! د دې ګس مخ ته خو وګوره--!! زهٔ چې ورنزدې شوم او اومې کتل نو د هغه ګس مخ بالکل تک تور شوے وو- ما د (الله پاک د ويرې نه ووئيل:) حَسْبِیَ (يعنې زما د پاره الله کافي دے)- حضرت سعيد بن مُسَيّب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هغهٔ راز بيان کړو او اوئې فرمائيل: دې ګس به د مسلمانانو د دريم او څلورم خليفه حضرت عثمان او علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما ګستاخي کوله، ما دا منع کړو خو دا منع نه شو- بيا ما دُعا وکړه: **يا الله پاکه! که د دې بد بخته ګستاخي تا ناراضه کوي نو ما ته پهٔ دهٔ کښې څهٔ نخښه وښايه- بس بيا د هغهٔ مخ تک تور شو-** [1]

دو جہاں میں دشمنِ عثماں ذلیل و خوار ہے | بعد مرنے کے عذابِ نار کا حقدار ہے[2]

---

1 ... (رياض النضرة ٩-

2 ... کراماتِ عثمان غنی، صفحہ:3-

اللّٰه! اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور وکړئ چې د مسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اللّٰهُ ربُّ العِزّت په بارګاه کښې ډېر اوچت مقام لري، د هغوئي په باره کښې ګستاخي د رَبِّ قادِر و قَیُّوم بالکل خوښه نه ده، دا ضروري نه ده چې د حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ګستاخ سزا هر چا ته په دنیا کښې ښکاره شي، البته دا خبره تاکلے شوې ده چې څوک د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یا د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ګستاخ وي او بغیر د توبې نه هم په دغه حالت کښې مړ شي نو په آخرت کښې د سخت عذاب حقدار دے۔

## صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُم ته د بد ویونکو انجام

د حضرت حسن رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نه روایت دے چې رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د دُنیا نه په دې حالت کښې لاړو چې هغهٔ به (مثلاً صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم او تابعینِ کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْہِم ته) بد وئیل نو اللّٰه پاک به په هغهٔ باندې یو څناور مسلط کړي، کوم چې به د هغهٔ نه غوښه راشوکوي او دا به د هغې تکلیف تر قیامته پورې محسوسوي۔ [1]

اَلاَمَان وَالحَفِیظ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مَعَاذَ اللّٰه! صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته د بد وئیلو ډېره سخته ګناه ده چې اللّٰه پاک به د دې ګناه په وجه باندې د قیامت د ورځې پورې په عذاب کښې اخته کوي۔ یاد ساتئ چې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته بد وئیل ډېره غټه ګناه ده، خپل قبر د دوزخ د کندې جوړولو او دوزخ ته بوتلونکے کار دے۔ دا هٔغه مبارکې هستیانې دي د کومو په باره کښې چې زمونږه خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَصۡحَابِیۡ کَالنُّجُوۡمِ بِاَیِّهِمُ اقۡتَدَیۡتُمۡ اِهۡتَدَیۡتُمۡ یعنې زما

---

[1]... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب القبور، جلد:6، صفحه:84، حدیث:130۔

صحابه د ستورو په شان دي نو تاسو چې په دوئي کښې د چا پیروي کوئ، هدایت به بیامومئ-[1]

الله پاک دې مونږ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ادب کوونکي جوړ کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د الله پاک او د هغهٔ د حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مَحَبَّت کولو سره سره د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم او اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم سره هم مَحَبَّت فرمائي، هغوئي د خپلو کلامونو په مجموعه **وسائلِ بخشش** کښې د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شان بیانوي او لیکي:

خدا بھی اور نبی بھی، خود علی بھی اس سے ہیں ناراض
عَدُو اُن کا اُٹھائے گا قیامت میں پریشانی
عَداوت اور کینہ اُن سے جو رکھتا ہے سینے میں
وہی بد بخت ہے ملعون ہے، مردود شیطانی
ہم اُن کی یاد کی دُھومیں مچائیں گے قیامت تک
پڑے ہو جائیں جل کر خاک سب اَعدائے عثمانی[2]

**وضاحت**: د آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ځوم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره د دښمنۍ کوونکو نه ❀ الله پاک ❀ د هغهٔ خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ❀ او حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ټول خفه او بے زاره دي، داسې لعني کَس به د قیامت په ورځ د ډیرې پریشانۍ سره مخ وي، د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره دښمني کوونکي، بدبخته، لعنتي او د شیطان ملګري دي، که د دوئي

[1]... کشف الخفاء، جلد:1، صفحه:118، حدیث:381۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:584-585۔

دښمنان پرې سوزي لمبه کيږي خو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ! مونږ عاشقانِ صحابهٔ او اهلِ بيت به تر قيامته پورې د دوئي ذِکرِ خير کوي۔

الله پاک دې زمونږه د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره رښتونے پوخ مَحَبَّت نصيب کړي، د دې پاکو هستيانو د ګستاخئ او بے ادبئ نه مو دې محفوظ کړي، کاش چې ❀ پهٔ عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ❀ مَحَبَّت آلِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ❀ مَحَبَّت صحابهٔ او اَولياء کښې ژوند، هم پهٔ دې مَحَبَّت کښې قبر ته کوزيدل، بيا هم د دې مَحَبَّت سره د قيامت پهٔ ورځ راپاڅيدل نصيب شي۔

| | |
|---|---|
| آل و اَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں، بادشاہ | میں فقط ادنٰی گدا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| فضلِ رَبّ سے دوجہاں میں کامیابی پائے گا | دِل سے جو شیدا ہوا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| جینا مرنا اُن کی اُلفت میں ہو یارَبّ! اور ہو | قُرب جنّت میں عطا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| یااِلٰہی! شکریہ عطّار کو تُو نے کیا | شعر، مِدحَت سَرا اَصحاب و اَہلِ بیت کا[1] |

راځئ چې پهٔ شريکه نعره ولګوو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیِ نبی! | جنّتی جنّتی | سب صحابیات بھی! | جنّتی جنّتی |
| چاریارِ نبی! | جنّتی جنّتی | حضرت صدیق بھی! | جنّتی جنّتی |
| اور عمر فاروق بھی! | جنّتی جنّتی | عثمان غنی! | جنّتی جنّتی |
| فاطمہ اور علی! | جنّتی جنّتی | ہیں حسن حسین بھی! | جنّتی جنّتی |
| والدینِ نبی! | جنّتی جنّتی | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی جنّتی |
| اور ابوسُفیان بھی! | جنّتی جنّتی | ہیں معاویہ بھی! | جنّتی جنّتی[2] |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1]...وسائلِ فردوس، صفحه:35و36 ملتقطًا۔

[2]... وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

# د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے ❁ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې ترور [د والد صاحب د خور] اُمِّ حکیم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہا نـمسے دے یا داسې وایئ چې یو قِسم له پهٔ رشته کښې د مالِک جنّت، قاسِمِ نعمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوریے کیږي ❁ هغوئي پهٔ سابقینِ اَوَّلین کښې دے یعني پهٔ ابتداء کښې یـې اِسلام قبول کړے وو او پهٔ اِسلام کښې داخل شوے وو، پهٔ اِسلام قبلولو کښې د هغوئي څلورم یا پینځم نمبر دے ❁ پهٔ عَشَرَہ مُبَشَّرَہ (یعني د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلي مبارکې نه د جنّت پهٔ زیري اوریدونکو لسو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) کښې دے ❁ سرکارِ اعظم، رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره دومره مَحَبَّت کولو چې هغوئي پهٔ یوې پسې بَله خپلې دوه شهزادګۍ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته پهٔ نکاح کښې ورکړې۔(1) اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ دې طرف ته اشاره کوي او فرمائي:

نُور کی سرکار سے پایا دوشالہ نُور کا | ہو مُبارک تُم کو ذُو النُّورَین جوڑا نُور کا(2)

**وضاحت:** اے د دوو نُورونو والا خوږه عثمانِ غني (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ)! ستاسو دې ډیر ډیر مبارک شي تاسو ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دوو لونړو سره د نکاح کولو شرف حاصل شو۔

❁ پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: الله پاک ما ته وَحي ووفرمائیله چې زهٔ د خپلو دوو لونړو

1...نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544، خلاصۃً۔

2... حدائقِ بخشش، صفحہ:246۔

نکاح د عثمان سره وکړم۔ [1] ❁ پهٔ يو حديثِ پاک کښې يې ووفرمائيل: که زما 100 لونړه وے، پهٔ هغوئي کښې يوه وفات کيدله نو ما به دويمه د عثمان پهٔ نِکاح کښې ورکوله، چې هغهٔ وفات کيدله نو ما به دريمه د عثمان پهٔ نِکاح کښې ورکوله، تر دې پورې چې ما به خپلې سل واړه شهزادګۍ پهٔ يوې پسې بَله د عثمان پهٔ نکاح ورکوله۔ [2]

❁ د مولائے کائنات، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه چې د **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ باره کښې پوښتنه وکړے شوه نو اوئې فرمائيل: **عثمان هغه دے چا ته چې فرښتے ذُو النُّورَين وائي**، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څوم دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جنَّت زيرے ورکړو۔ [3]

نبی کے نور دو لے کر وہ ذُو النُّورَین کہلائے | انہیں حاصل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی[4]

❁ د اِسلام د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت نه پس د مسلمانانو پهٔ کثرتِ رائے سره **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خليفه مقرر شو، تر 12 کالو پورې هغوئي خليفه وو، د 40 ورځو د سختې محاصرې نه پس، پهٔ 18 ذُو الحجه پهٔ 35 هجرۍ کښې ډير پهٔ ظلم زور سره شهيد کړے شو۔ [5]

## حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ د ښو اخلاقو مالِک وو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د صحابئ رسول حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډيره اوچته مرتبه ده، د هغوئي پهٔ اوچتو شانونو کښې يو شان دا هم دے چې آخري نبي، رسولِ

---

[1]… معجم الاوسط، جلد:2، صفحہ:346، حديث:3501۔

[2]… کنزُ العُمال، کتاب:الفضائل، جلد:7، جُز:13، صفحہ:21، حديث:36201۔

[3]… رياض النضرة، مناقب :عثمان بن عفان، اسمہ و کنيت، جز:3، صفحہ:6۔

[4]… وسائل بخشش، صفحہ:584۔

[5]… نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544۔ کرامات ِ عثمان غنی، صفحہ:3۔

هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د خپلو اخلاقو په شان د اعلیٰ اخلاقو والا فرمائيلے دے۔ د صحابئ رسول حضرت اَبُو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے: د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګۍ حضرت رُقَیَّہ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا څوک چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور وداني محترمه ده، يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي کور ته تشريف يوړلو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې شهزادګۍ ته ووفرمائيل: لورې! تا اَبُو عبد الله (يعني عثمانِ غني) څنګه بياموندلو؟ عرض يې وکړو: **هغۀ بهترين انسان دے۔** اوئې فرمائيل: اَکْرِمِیْهِ فَاِنَّهٗ مِنْ اَشْبَهِ اَصْحَابِیْ بِیْ خُلُقًا **يعنې لورې! د عثمان عزّت کوه! بے شکه هغۀ په اخلاقو کښې زما سره ډير مشابهت لرونکے صحابي دے۔** [1]

## لونړو ته د خاؤند عزّت وښايئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې حديثِ پاک کښې زمونږ د زدکړې د پاره دوه خبرې دي: **(1):** وړومبۍ خبره خو دا ده چې آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې شهزادګۍ صاحبې ته د خاؤند عزّت وښودلو، اوئې فرمائيل: اَکْرِمِیْهِ لورې! د خپل خاؤند (عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) عزّت کوه!

د دې نه معلومه شوه چې د چا لونړه وي او لونړه يې د الله پاک په کرم سره واده شوې وي، هغوئي له پکار دي چې خپلو لونړو ته د خاؤند عزّت وښائي، هغوئي ته دې تلقين کوي، هغوئي ته دې د خاؤند اهميت او فضيلت بيانوي۔ په اِسلام کښې د خاؤند څومره حقونه دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ✿ په ښځه باندې د ټولو سړو نه زيات حق د هغې د خاؤند دے او په سړي باندې د هغۀ د

---

[1]... رياض النضره) ۔

مور دے۔ [1] ❁ که ما چا ته حکم کولے چې بغير د خدائے نه [بَل چا ته] سجده وکړي نو حکم به مې کړے وے چې ښځه دې خپل خاؤند ته سجده وکړي، قَسم په هٰغه [ذات] د چا په قبضه کښې چې د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ځان دے! ښځه به د خپل پروردګار حق ادا نکړي تر څو پورې چې د خاؤند ټول حقونه ادا نه کړي۔ [2] ❁ ښځه به د ايمان خوند نه بيامومي تر څو پورې چې د خاؤند حق ادا نه کړي۔ [3]

اندازه ولګوئ! دا د خاؤند حقونه دي، کوم چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان کړي دي، دا حقونه خپلو واده کړے شوو لونړو او د کومو ودونه چې رانزدې دي، هغوئي ته وښايئ۔ افسوس چې ❁ نن سبا په معاشره کښې طلاقونه زياتيږي ❁ مغربي کلتور زمونږه معاشره په تُندئ سره اختياروي ❁ باقاعده د منصوبې سره ښځې د هغوئي د خاؤندانو نه باغي کولے شي چې په نتيجه کښې يې خانداني نظام خرابيږي، مونږ له د دې خبرې احساس پکار دے، د افسوس خبره ده چې ❁ نن سبا که لور د پلار کور ته راشي او د خپلې سخرګنئ او د خاؤند بد بيانوي، د هغوئي غيبت کوي نو هغهٔ نه منع کولے کيږي، اُلټا هغهٔ نوره لمسولے شي، دا ډيره د افسوس خبره ده، په دې وجه باندې ❁ ډيرې کورنئ تباه کيږي ❁ د ماشومانو مستقبل تباه کيږي، مونږ له په دې باندې ځان پوهه کول پکار دي، خاص طور د چا چې لونړه دي، هغوئي ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې مبارک انداز نه سبق اخستل پکار دي۔

## د اميرِ اهلِسُنَّت خپلې شهزادګئ ته نصيحت

[1] ... مستدرك، كتاب البر والصلة، اعظم الناس حقا...الخ، ٢٤٤/٥، حديث:٧٤١٨ ملخصًا۔

[2] ... ابن ماجه، كتاب النكاح، باب حق الزوج على المرأة، ص٢٩٧، حديث:١٨٥٣۔

[3] ... مستدرك، كتاب البر والصلة، حق الزوج على الزوجة، ٢٤٠/٥، حديث:٧٤٠٥۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقِ سُنَّت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خوږ آقا، مكي مَدَني مصطفٰے، نُورِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګانې اختيار کړې دي، هغوئي چې خپلې شهزادګۍ ته کوم نصيحتونه کړي وو، په هغې کښې يو څو نصيحتونه دا هم وو، اوئې فرمائيل: (1): د خاؤند د اړخ نه ميلاويدونکے هر حُکم کوم چې د شريعت خلاف نه وي د هغې منل ضروري دي- (2): د خپل خاؤند او د خوابنې هر کلے د ودريدو سره کوه او چې کله رخصتيږي نو هم د ودريدو سره يې رخصتوه- (3): د خاؤند نه د ځان د پاره هيڅ قِسمه سوال مۀ کوه او په هغۀ باندې بوج مۀ جوړيږه- آؤ که هغۀ مقرر کړے شوي حقونه نه ادا کوي نو بيا ترينه غوښتے شې-[1]

## د اميرِ اهلِسُنَّت ناوې او د واده ځلمي ته نصيحتونه

د دې سره سره اميرِ اهلِسُنَّت ناوې او د واده ځلمي ته هم خپل ښکلي ښکلي نصيحتونه عطا کړي دي کوم چې يقيناً د واده کړي ژوند د پاره ډير اهم دي، هغوئي د واده ځلمي ته نصيحت کوي او فرمائي: ❀ د ښځې په بدو اخلاقو باندې صبر کوئ ❀ اهل و عيال ته ضروري عِلمِ دِين وښايئ ❀ ښځه د بے پردګۍ نه بچ کوئ ❀ نرمي اختيار کړئ ❀ د خوابنې او اينګور په جګړه کښې د انصاف نه کار اخلئ-[2]

ناوې ته نصيحت کوي او فرمائي: ❀ د خوابنې او ايندرور سره چرې هم مۀ ورانوئ ❀ خوابنې خپله مور ګڼئ ❀ په هر قِسمه بد سلوک باندې صبر کوئ او د حکمت عملی سره هغه حل کوئ ❀ نرمي اختيار کړئ ❀ د چا غصه په ماشومانو باندې مۀ اوباسئ ❀ د سخرګنې والؤ په حق کښې د دُعا نه غفلت مۀ کوئ ❀ شرعي پرده کوئ ❀ د

---

[1]... صحابيات اور نصيحتوں کے مدنی پهول، صفحه:116و 117 خلاصةً۔

[2]... تذکره امير اہلسنّت قسط:3، سنّت نکاح ، صفحه:53 تا57 ملتقطاً بتصرف۔

خاموشۍ عادت جوړ کړئ-[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلي نصيحتونه دي، د مکـتبة الـمدينه رساله ده: سُنَّت نکاح- په دې رساله کښې داسې نور هم ډېر نصيحتونه موجود دي، مشوره ده چې دا رساله پخپله هم ضرور ولولئ! او که اولاد مو ودونه کړي وي نو په هغوئي باندې يــې هم ضرور ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! کور به د اَمن او سکون نه ډک شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

## (2): د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ ښه اخلاق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه حديثِ پاک واوريدو چې آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شان بيان کړو او اوئې فرمائيل: اِنَّهٗ مِن اَشْبَهِ اَصْحَابِي بِي خُلُقًا بے شکه عثمان په اَخلاقو کښې زما سره ډېر مشابهت لرونکے صحابي دے-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے فضيلت دے--!! د عظيمو اخلاقو والا رسول، د رسولِ مَقبُول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخلاق څنګه وو؟ الله پاک ووفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِیْمٍ ﴿۴﴾ (پاره:29، القلم:4) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه ته يقيناً په عظيمو اخلاقو يــې- |

سُبْحٰنَ الله! دا عظيم اخلاق کوم چې رَبِّ کريم خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عطا کړي دي، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دې پاکو اخلاقو نه ډېره زياته حصه حاصلوونکے صحابي دے-

خَلق پہ لُطفِ خُدا، حضرتِ عثمان ہیں | جملہ مرض کی دَوا، درد کے دَرمان ہیں

[1]... تذکره امير اہلسنّت قسط:3، سنّت نکاح ، صفحه:62، 63 ملتقطاً بتصرف-

آپ ممدوحِ جہاں خلقِ خدا مدح خواں
کیا ہے اگر بد گماں، چند بے ایمان ہیں

حق نے وہ رتبہ دیا تم غنی ہم گدا
کیا کہوں میں تم ہو کیا، عقل و دل حیران ہیں

تم غنی سالکؔ گدا، اِک نظر بہرِ خدا
آپ جہاں کے لئے رحمتِ رحمٰن ہیں [1]

وضاحت: د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذات مبارک لکه پهٔ مخلوق باندې د الله پاک لُطف و کرم دے او هره جمله يې د بيمارو دوائي ده، د هغوئي شان او عظمت ټول جهان بيانوي، يو څو بے ايمانه خلق که د هغوئي د شان نه انکار کوي نو پهٔ دې هيڅ فرق نه پريوځي، الله پاک هغوئي غني او مونږ د هغوئي د دَر ملنګان جوړ کړي يو، زما خو عقل حيران دے چې زهٔ د دې نه علاوه ستاسو پهٔ شان کښې څهٔ ووايم، هغوئي غني دي! دا سالکؔ (يعنې مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ) ستاسو د دَر ملنګ [يعنې فقير] دے، د الله د پاره زمونږ پهٔ حال باندې کَرم ووفرمايئ-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ښکلي اوصاف او پاکيزه اخلاق څنګه دي؟ راځئ چې د يو څو د اوريدو سعادت حاصل کړو:

## (1): حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ پوخ ايمان والا وو

حضرت ثابِت بن عبدُ الله رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: يو ځل د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ خدمت کښې يو کَس حاضر شو او عرض يې وکړو: اے اَميرُ المؤمِنين! زهٔ مدينے منورې ته واپس ځم، د هغه ځائے خلقو زما نه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ باره کښې پوښتنه کوله، هغوئي له څهٔ جواب ورکړم؟ اوئې فرمائيل: هغوئي ته ووايه چې دا آيت مبارک پهٔ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې مکمل فِټ راځي (آيت کوم يو دے؟ د 7 سيپارې، د سورهٔ مائده دا آيت):

---

[1]... ديوانِ سالک، صفحه:78، 79 ملتقطاً۔

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّ اَحْسَنُوْا ؕ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۹۳﴾ (پاره:7، المائدة:93)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ایمان لري او ښه کارونه وکړي، بیا وَیَریږي او ایمان لري، بیا وَیَریږي او نیکۍ کوي او الله د نیکۍ کوونکو سره مَحَبَّت فرمائي۔

یعنې اے پوښتنه کوونکیه: چې کله تهٔ مدینے منورې ته ورسې نو د هُغه ځائے خلقو ته ووایه چې عثمان (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) هُغه عظیم الشّان دے ❀ چا چې ایمان قبول کړو ❀ نیک اَعمال یې وکړل ❀ ټول عمر پهٔ ایمان باندې ثابت قدم پاتې شو ❀ ټول عمر یې تقویٰ اختیار کړه ❀ د الله پاک نه ویریدو ❀ هغوئي داسې نیک انسان دے چې الله پاک د هغوئي سره مَحَبَّت کوي۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ ایمان او تقویٰ باندې ثابت قدم پاتې کیدونکے خوش قِسمته دے۔

## زهٔ به دِینِ اِسلام هیڅکله هم پرې نږدم

پهٔ کتابونو کښې لیکلي دي: چې کله حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ایمان قبول کړو نو د هغوئي ترهٔ حَکم بن اَبِي عَاص هغوئي پهٔ رسۍ وتړو او اوئې وئیل: تر څو پورې چې تهٔ اِسلام پرې نږدې، تا به زهٔ هیڅکله هم نه پرانیزم۔ اَسْتَغْفِرُ الله! (هغهٔ ډیرې ورځې هغوئي ته هم داسې تکلیف ورسولو خو) د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ ژبه مبارکه باندې هم یوه خبره وه: **پهٔ خدائے مې دې قَسم وي چې دا پاک دِین به هیڅکله هم پرې نږدم۔**

آخر هم هغه وشول چې حق وګټله او باطِل بائلله، حَکم بن اَبِي عَاص چې کله د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ ایمان باندې استقامت ولیدو نو وسله یې وغورځوله،

آخر هغهٔ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د قید نه ازاد کړلو- [(1)]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ دِین باندې څنګه اِستقامت دے- ډیر پوخ ایمان لرل زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے صفت دے، پهٔ دُنیا کښې څوک هم داسې نشته، نه وو، نه به چرې راشي چې د چا ایمان د جانِ ایمان، مکي مَدَني سلطان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ شان وي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې پاک صفت فیضان حاصل وو-

کاش چې زمونږ هم پهٔ دِین باندې، پهٔ اِسلام باندې، پهٔ ایمان باندې اِستقامت نصیب شي، کاش چې د خپل اِیمان د حفاظت سوچ مو پهٔ حقیقي معنو کښې نصیب شي- آه! پهٔ دې وخت کښې ایمان بچ کول ډیر ګران شوي دي، د عِلمِ دِین داسې کمے دے چې د اللّٰه پناه--! ❀ څومره داسې خلق دي کوم چې سندرې وائي، سندرې اوروي، خوشحالیږي، حالانکې پهٔ دې سندرو کښې د کُفر شعرونه دي او دوئي ته هډو معلومه نه ده، بس پهٔ خپله مستئ کښې مست وي او د ځان سره سندرې وائي، ډیر پهٔ خوند خوند یې اوري-

هسې هم که پهٔ سندره کښې د کُفر الفاظ نه وي نو بیا هم سندرې سازونه اوریدل، نورو ته اورول شیطاني کار دے او د دې دومره سخت عذاب دے چې برداشت به یې نکړے شو- د روایتونو مطابق څوک چې سندرې اوري، د قیامت پهٔ ورځ به د هغهٔ پهٔ غوږونو کښې وِیلې کړے شوې اوسپنه اچولے شي- [(2)]

❀ بعضې وخت چې څهٔ مصیبت راشي، پریشاني راشي، د ځوانئ مرګ راشي، ناڅاپه حادثه راپیښه شي نو خلق ګیلې کوي، شکایتونه کوي، بعضې نادانه خو مَعَاذَ اللّٰه! (د اللّٰه

---

[1]... (طبقات الکبرٰی)۔

[2]... کنز العمال، جلد:15، صفحه:96، حدیث:40662۔

پاک پناه) د ڪُفر جُملې هم وائي او د ديني معلوماتو د کمي له وجهې به هغوئي ته د دې خبرې هډو پته هم نه وي چې دا د ڪُفر جمله ده کومه چې مسلمان د اِسلام نه اوباسي- ❀ بعضې نادانه د غير مسلمو طور طريقې اختياروي، د هغوئي په مذهبي تهوارونو کښې شامليږي، څهٔ دنيائي فائده يـې وي، لالچ يـې وي، د پيسو حِرص يـې وي او له دې وجهې يـې **مَعَاذَ الله!** د ايمان په لور هډو توجه نه وي، د الله پاک د ناراضګۍ خيال ورسره نه وي، د الله پاک نه د ويرې کمے وي، د عشقِ رسول کمے وي او داسې هغهٔ د غير مسلمو د صحبت په وجه د هغوئي په مذهبي تهوارونو کښې شرکت کوي او بعضې ځل خو يـې د ايمان سودا هم کړې وي، د ڪُفر تيارهٔ کوهي ته غورځيدلې وي او د هغوئي سره د خپل ايمان د دولت لوټ کيدو هډو اِحساس نه وي-

الله پاک دې د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په وسيله زمونږه هم پوخ، ډير پوخ ايمان نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مسلماں ہے عطار تیری عطا سے | ہو ایمان پر خاتمہ یا اِلٰہی[1]

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو ډير زبردست او په خپله موضوع باندې نا اشنا کتاب دے: **کُفریہ کلمات کے بارے میں سُوال جواب**- په اُردو ژبه کښې په دې موضوع باندې دومره تفصيلي کتاب ميلاويدل ډيره مشکله ده- دا کتاب د هر کور بلکې د هر يو کَس ضرورت دے- صرف د 675 صفحو کتاب دے او په دې کښې د ڪُفريه کلماتو په باره کښې داسې معلومات دي چې ثوک يـې ولولي نو هغهٔ پرې پوهيږي- هم نن د مکـتـبة الـمدينه نه دا کتاب هديه کړئ، که غواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه يـې هم ډاؤن لوډ کولے شئ! ځپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (2): عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ حیادار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په ښو ښو اخلاقو کښې حیا هم شامله ده- هغوئي په اُمَّت کښې د ټولو نه زیات حیادار دے- آؤ جي! په حدیثِ پاک کښې دي: حیا د ایمان نه ده او عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زیات حیا کوونکے دے- (1)

یا الٰہی! دے ہمیں بھی،دولتِ شرم و حیا | حضرتِ عثماں غنی، با حیا کے واسطے

## فرښتے د هغوئي نه حیا کوي

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِیقه طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْها فرمائي: یوه ورځ نبي کریم رؤفٌ رحیم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما وو، د هغوئي د پنډئ مبارکې نه کپړه لرې شوې وه، هٰغه وخت حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل انداز کښې [هم هٰغسې] تشریف فرما وو، بیا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په هٰغه انداز کښې تشریف فرما وو، بیا چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله پنډئ مبارکه پټه کړه، سَیِّده عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْها فرمائي: د هغوئي د تللو نه پس ما عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بابا جان زما والدِ محترم راغلو، تاسو هم هٰغه شان تشریف فرما وئ، عمر راغلو، تاسو بیا هم هٰغه شان تشریف فرما وئ، چې کله عثمان

(1)... (اَلْجامعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص ۲۳۵ حدیث ۳۸۶۹ دار الکتب العلمیة بیروت)۔

راغلو نو تاسو پندېږ مبارکه پټه کړه، په دې کښې څۀ حکمت دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: اَلَا اَسْتَحْيِيْ مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحْيِ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ آيا زۀ د هٰغه کَس نه حيا ونکړم! د چا نه چې فرښتے هم حيا کوي۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ---!! هغوئي دومره حيادار وو چې فرښتو به هم د هغوئي نه حيا کوله۔

محبوبِ مصطفٰے بھی ہے عثمانِ ذوالنُّورین
اِک پیکرِ سخا بھی ہے عثمانِ ذوالنُّورین
جس سے حیا خدا و حبیبِ خُدا کریں
وہ صاحبِ حیا بھی ہے عثمانِ ذوالنُّورین

*_*_*_*

دامادِ شہِ مَکّی مَدَنی، عُثمانِ غنی عُثمانِ غنی
اے دِل کے دَھنی قسمت کے دَھنی، عُثمانِ غنی عُثمانِ غنی
تُو شَرم و حیا کا پیکر ہے، تُو زُہد و وَرَع کا خُوگر ہے
تُو طالبِ قُربِ شہِ زَمَنی، عُثمانِ غنی عُثمانِ غنی

الله پاک دې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په وسيله زمونږه هم د حياء دولت نصيب کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## خير په څلورو څيزونو کښې دے

د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: خير په څلورو څيزونو کښې دے: (1): په نفلونو ادا کولو د الله پاک سره د مَحَبَّت په اظهار کولو کښې (2): د الله پاک په حکمونو باندې په صبر کولو کښې (3): د الله پاک په تقدير باندې په راضي

---

[1]... (رياض النضره) ۔

کیدو کښېږي (4): او الله پاک مو ویني، ځکه د هغۀ نه پۀ حیاء کولو کښېږي-[1]

## د اِسلام خُلق حیا ده

د ابنِ ماجه حدیثِ دے: بے شکه د هر دِین یو خُلق دے او د اِسلام خُلق حیا ده-[2] یعني د هر اُمَّت څۀ نا څۀ خَصلتونه او عادتونه وي کوم چې پۀ نورو خَصلتونو باندې غالِب وي او د اِسلام هغه خَصلت حیا ده-

## د حیا د ماحول سره تعلق

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حیا پۀ نَشوونُما [یعني روزنه] کښې د ماحول او تربیت ډیر لوئي لاس وي- د حیاداره ماحول میلاویدو شکل کښې حیا ته ښه ښکلا ځلا حاصلیږي خو د بے حیا خلقو صحبت د زړۀ او سترګو پاکي اخلي او هغۀ بے شرمه کوي او انسان پۀ بے شمیره غیر اخلاقي او ناجائزه کارونو کښې اخته کیږي ځکه چې صرف حیاء وه کومې چې به هغۀ د بدو او ګناهونو نه منع کولو- چې حیا پاتې نه شوه نو بیا به یـې د بدو نه څوک رامنع کوي؟ داسې ډیر خلق وي څوک چې د بدنامۍ د ویرې نه شرمیږي او ګناهونه نه کوي خو څوک چې د نیک نامۍ او بدنامۍ پروا نه کوي نو داسې بے حیا خلق هره ګناه کوي، د اخلاقو حدونه ماتوي او د بد اخلاقۍ میدان ته ورځي او د انسانیت نه پۀ غورځیدلو کارونو کښې هم شرم نه محسوسوي-

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د حیا د ذهن جوړولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه بهترینه رساله باحیانوجوان د مکـتبة الـمدینه نه حاصله کړئ او اوئې لولئ! او نورو له هم د دې د لوستو ترغیب ورکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

---

[1]… اللمع مترجم، صفحہ:247۔

[2]… ابن ماجہ، کتاب الزہد، باب الحیاء، صفحہ:679، حدیث:4181۔

حيا به درکښې راشي- الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یا الٰہی! دے ہمیں بھی دولتِ شرم و حیا | حضرتِ عثماں غنی با حیا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک د رضا د پاره ناقلاره کيدل

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيمار شو، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم د ځان سره کړل او د هغوئي د تپوس د پاره يې تشريف يوړلو نو اوئې کتل چې حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مخ د زمکې په لور کړے دے او ملاست دے- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: عثمانه! څهٔ وشول، خپل سر ولې نه راپورته کوې؟ عرض يې وکړو: يا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما له د الله پاک نه حيا راځي- سرکارِ عالي وقار، د مکے مدينے تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: ولې حيا درځي؟ عرض يې وکړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **زهٔ ويريږم چې هسې نه زما رَبِّ کريم زما نه ناراضه شوے نه وي---!!** (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! **اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ګناه هيڅ کار نه وو کړے، د الله پاک د ناراضه کيدو والا هيڅ يو کار يې نه وو کړے، خو د رښتوني عاشق سره هر وخت بس هم دا فِکر وي چې هسې نه زما محبوب زما نه خفه نه شي، د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره هم داسې قِسمه فِکر وو، هغوئي د زمکې په لور مخ کړے وو او ملاست وو، سر يې نه راپورته کولو، لکه چې د ملامتيا اظهار يې

1... رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحہ:20۔

کولو چې هڅۍ! زما رَبّ خو به زما نه ناراضه شوے نه وي- چې کله سلطانِ انبیا، مَحبُوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل خوږ صحابي حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ دا خبره واوریدله نو اوئې فرمائیل: **عثمانه! دا جبریل** عَلَیْهِ السَّلَام **دے، ما ته خبر راکوي چې تهٔ د اسمان والؤ نُور یې، د زمکې والؤ او د جنَّت والؤ ډیوه یې-** [1]

| | |
|---|---|
| جو دِل کو ضیا دے جو مقدر کو جِلا دے | وہ جلوۂ دیدار ہے عثمانِ غنی کا |
| جس آئینہ میں نُورِ الٰہی نظر آئے | وہ آئینہ رُخسار ہے عثمانِ غنی کا[2] |

**وضاحت:** د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ دیدار زړهٔ روښانه کوي او بخت رابیداروي، د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ مخ مبارک هُغه آئینه ده پهٔ کومه کښې چې د الله پاک د نُور جلوې پهٔ نظر راځي-

کاش چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ پهٔ وسیله زمونږه هم توفیق نصیب شي چې مونږ هم د الله پاک د رضا ارماني شو- آه! ❀ زمونږ سره د دُنیا فِکر راسره وي ❀ د کاروبار فِکر راسره وي ❀ د نوکرۍ فِکر راسره وي ❀ د پیسو فِکر راسره وي ❀ د امتحانونو فِکر راسره وي ❀ د خوراک فِکر راسره وي ❀ د څښاک فِکر راسره وي ❀ د اغوستو فِکر راسره وي ❀ بَس هر وخت صرف د دُنیا فِکرونه راسره وي، هم پهٔ دې کښې راګیر یو، که نه وي راسره نو جنّت ته د تللو فِکر راسره نه وي، دوزخ ته د غورځیدو فِکر راسره نه وي، د اِیمان بچ کولو فِکر راسره نه وي، د الله پاک د راضي کولو فِکر راسره نه وي، کاش چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ پهٔ وسیله مو د الله پاک مَحَبَّت نصیب شي، مونږ هم د الله پاک د راضي کولو او د هغهٔ د ناراضه کولو نه د بچ کیدو فِکر کوونکي جوړ شو- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... رياض النضرة، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:20۔

[2]... ذوقِ نعمت، صفحه:81۔

مُعَاف فضل و کرم سے ہو ہر خطا یارَبّ
ہو مغفرت پئے سلطانِ انبیاء یارَبّ!
نبی کا صدقہ سدا کے لئے تُو راضی ہو
کبھی بھی ہو نا نہ ناراض یا خُدا یارَبّ![1]

## (3): د دُنيا نه بے رغبتي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ د آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاکو اخلاقو کښې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دوارو جهانونو مالِک دے، رَبِّ رحمان هغوئي مالِکِ کُل جوړ کړے دے، د دې باوجود به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا سره رغبت نه لرلو-

د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سيرت کښې هم دا ښکلے خُلق په نظر راځي ❀ هغوئي غني وو ❀ مالداره وو ❀ رَبِّ کريم هغوئي ته ډير زيات مال عطا کړے وو، د دې باوجود ❀ هغوئي د دُنيا سره رغبت نه لرلو ❀ د دُنيا مَحَبَّت به يـې زړۀ ته داخليدو ته نه پريښودو ❀ د مالدارئ باوجود به يـې د عيش او عشرت والا ژوند نه تيرولو- ساده جامې به يـې اغوستلې، قيمتي قيمتي څيزونه به يـې د خپل ذات د پاره کم استعمالول، په کتابونو کښې ليکلي دي: چې کله هغوئي خليفه وو نو په خلقو باندې به يـې ډير ښه خوراکونه کول، بيا چې به يـې کور ته تشريف راوړلو نو د سرکې او د زيتون سره به يـې ساده ډوډئ خوړله-[2]

سُبْحٰنَ الله! څومره نا اشنا خبره ده---!! ❀ چې انسان مالداره وي ❀ غټ کاروبار يـې وي ❀ په زرګونو لکونو کښې يـې آمدن وي، بيا هم انسان ساده ژوند تيروي، د مالدارئ باوجود د دُنيا مَحَبَّت په زړۀ کښې نه پريږدي، دا د کمال خبره ده بلکې ډيره د کمال خبره ده، دلته اُلټا نظام دے، خلق د ځان د پاره د بهتر نه بهتر څيزونه اخلي، د اعلیٰ نه اعلیٰ

---

[1]... تعارف امير اہلسنت، صفحہ:28۔

[2]... (زہد لامام احمد) ۔

خوراکونه کوي خو چې کله غريبانانو له د ورکولو نمبر راشي نو ارزان ځيزونه، خراب ځيزونه، د کم معيار والا ځيزونه غريبانانو له ورکوي، بلکې استعمال شوي ځيزونه غريبانانو له ورکوي۔

دا هم غنيمت دے، د غريبانانو د مدد کولو يو ذِهن خو دے، ځۀ مدد خو کوي خو د دې نه بَلې درجې ته تلل پکار دي، لکه څنګه چې پۀ دنيائي معاملو کښې د وړاندې تللو خواهش وي، هم داسې د نيکو پۀ معامله کښې مخکښې درجې ته د تللو ارمان پکار دے، غريبانانو له يې ورکوئ، ضرور يې ورکوئ، پۀ هغوئي باندې يې خورئ، ضرور يې پرې خورئ خو د خپل وَس مطابق ورله بهترين ځيزونه ورکوئ، د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو دا شان وو چې پۀ نورو باندې به يې ښه خوراک کولو او پخپله به يې ساده خوراک کولو، راځئ چې مونږ کم از کم هم دومره خو وکړو چې څۀ پخپله خورو هُم هغه پۀ غريبانانو باندې هم وخورو، څۀ چې پخپله اغوندو، هُم هغه غريبانانو له هم ورکړو، څنګه معيار چې د ځان د پاره خوښوو، هُم هغه معيار د غريبانانو د پاره هم خوښ کړو۔ الله پاک پۀ قرآنِ مجيد کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ (پاره:3، البقره:267) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمانـدارو! د خپلې پاکې ګټې نه (د الله پاک پۀ لار کښې) څۀ خرچ کړئ |

وګورئ چې الله پاک د پاکې ګټې نه د الله پاک پۀ لار کښې د خرچ کولو حکم فرمائيلے دے۔ بيا يې ووفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّاۤ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ (پاره:3، البقره:267) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د خرچ کولو پۀ وخت کښې خاص د ناقصه مال (ورکولو) اراده مۀ کوئ حالانکه (که هُم هغه تا ته درکړے شي نو) تۀ به يې د سترګو پټولو نه |

بغير قبول نکړي۔

پهٔ تفسير صراط الـجنان کښې دي: بعضې خلقو به پهٔ صدقه کښې خراب مال ورکولو، د هغوئي پهٔ باره کښې دا آيت نازل شو او ووفرمائيلے شول چې د اللّٰه پاک پهٔ لاره کښې خپل ګټلے شوے پاک او صفا سوترا مال ورکوئ او د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې ناقِصه، خراب او رَدّي مال مهٔ ورکوئ، چې تاسو د اللّٰه پاک نه ښه جزا غواړئ نو د هغهٔ پهٔ لار کښې مال هم د اعلیٰ درجې ورکوئ۔ غور وکړئ چې څنګه خراب مال تاسو د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې ورکوئ که هُغه مال تاسو له درکړے شي نو آيا تاسو به يې قبول کړئ! اول خو به يې قبلوئ نه او که قبول يې هم کړئ نو پهٔ خوشحالئ باندې به يې نهٔ اخلئ بلکې پهٔ زړهٔ کښې به يې بد ګڼئ او اخلئ به يې نو چې د ځان د پاره يې اخستل ښه نهٔ ګڼئ نو د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې د لګيدونکي پهٔ باره کښې هم ښه سوچ وکړئ۔ (1)

اللّٰه پاک دې مونږ ته داسې توفيق راعطا کړي۔ کاش چې د زړهٔ نه د دُنيا مَحَبَّت ووځي، د اللّٰه او د رسول د راضي کولو، د جنَّت موندلو او د قبر د روښانه کولو شوق زمونږ نصيب شي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!  صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ معاف کوونکے وو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ د خوږ آقا، نُورِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ښو ښو اخلاقو کښې ډير ښکلے خُلق دے چې رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معاف کوونکے وو، دښمنانو ته به يې هم دعاګانې کولې، شاعِر وائي:

سلام اُس پر کہ جس نے خُوں کے پیاسوں کو قبائیں دیں

1. ... ؟؟؟۔

سلام اُس پر کہ جس نے گالیاں سُن کر دُعائیں دِیں (1)

**وضاحت:** يعني زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه د عظيم اخلاقو والا دے چا چې به د ويني تږو ته هم عطا کوله، بدو رَدو ويونکو ته به يې هم دعاګانې کولې، پۀ داسې عظيم نبي، پۀ داسې بے مثاله رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې سلام وي---!!

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته هم د دې ښکلي خُلق نه حصه نصيب شوې وه- **حضرت عمران بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:** يو ځل حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د سحر پۀ وخت جومات ته تشريف راوړلو، هٰغه دروازه پۀ کومه چې به هغوئي روزانه جومات ته داخليدل، پۀ هٰغه ورځ هم پۀ هٰغه دروازه باندې داخل شو، د دروازې برسيره کولو پۀ وخت هغوئي محسوس کړه چې د هغې شاته څوک دي- چا ته يې ووئيل: وګوره چې دلته څۀ دي؟ درې څلور ګسان پاځيدل، چې اوئې کتل نو هلته يو سړے پټ شوے وو، چا چې توره راويستې او پۀ لاس کښې يې نيولې وه، هغۀ د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ خدمت کښې پيش کړے شو، هغوئي ترينه پوښتنه وکړه چې تۀ څۀ غواړې---؟ اوئې وئيل: زۀ تاسو وژل غواړم- اوئې فرمائيل: دا ولې؟ اوئې وئيل: تاسو چې پۀ يمن کښې کوم ګس ګورنر جوړ کړے دے، هغۀ پۀ ما باندې ظلم کړے دے (چې هغۀ تاسو مقرر کړے دے نو ځکه زۀ تاسو ته غصه ووم)- هغوئي پۀ مَحَبَّت سره ووفرمائيل: بيا خو تا له پکار وو چې تا د هٰغه ګورنر شکايت ما ته کړے وے، که ما انصاف نه وے کړے نو بيا به ما ته غصه کيدلے (خو تا خو د مخکښې نه د وژلو اراده وکړه؟)- بيا حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ځان نه ګير چاپيره موجودو خلقو ته ووفرمائيل: تاسو څۀ وايئ؟ د دې ګس سره څۀ کول پکار دي؟ ټولو عرض وکړو: اے اَمِيرُ الْمؤمِنين! دا

---

[1] ... ؟؟؟ـ

ستا دښمن دے او اللّٰه پاک تاسو له پهٔ دهٔ باندې قابو درکړې ده (يعنې دهٔ له سخته سزا ورکړئ!) خو قربان شم! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به دښمنان هم معاف کول، هغوئي ووفرمائيل: دهٔ د ګناه اراده کړې وه خو اللّٰه پاک زهٔ د دهٔ نه بچ کړم- د دې وئيلو سره هغوئي هغه کس معاف کړو- [1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خومره ښکلے شان دے--!! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل سر دښمن معاف کوي- افسوس چې دلته خو خلق وړې وړې غلطۍ هم نه معاف کوي، پهٔ وړه وړه خبره اوچتيږي، غصه کوي، پهٔ زړهٔ کښې دښمني پالي بلکې د خپيړې جواب پهٔ لَتې سره د ورکولو رواج دے، يعني مخامخ ګس چې کوم تـکليف ورسوي، د هغې نه زيات تـکليف رسوي- کاش چې زمونږه پوهه نصيب شي، معاف کول د اللّٰه پاک سُنَّت دي، د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي، د امامُ الانبيا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي او د اللّٰه پاک د نيکانو بندګانو طريقه ده- څوک چې معاف کوي، هغهٔ معافي بياموي-

## پهٔ حساب کتاب کښې د اسانۍ درې اسباب

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: درې خبرې چې پهٔ چا کښې وي اللّٰه پاک به (د قيامت پهٔ ورځ) د هغهٔ حساب ډير پهٔ اسانه طريقه اخلي او هغهٔ به پهٔ خپل رحمت باندې جنّت ته داخلوي- صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هغه کومې خبرې دي؟ اوئې فرمائيل: **(1):** څوک چې تا محرومه کړي تهٔ هغهٔ ته عطا کړه او **(2):** څوک چې ستا سره تعلق پريږدي تهٔ د هغهٔ سره تعلق

---

[1]... (تاريخ المدينة المنوره) ـ

جوړوه او (3): څوک چې په تا باندې ظلم وکړي ته هغهٔ معاف کړه-[1]

## د جنَّت محل

د حضرت اُبَي بن کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د دواړو جهانونو سلطان، رحمتِ عالميان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا چې دا خوښه وي چې د هغهٔ د پاره (په جنّت کښې) محل جوړ کړے شي او د هغهٔ درجې اوچتې کړے شي نو هغهٔ له پکار دي چې څوک په هغهٔ باندې ظلم وکړي دا هغهٔ معاف کړي او څوک چې دا محرومه کړي دا هغهٔ ته عطا کړي او څوک چې د هغهٔ سره تعلق پريږدي، دا د هغهٔ سره تعلق جوړ کړي-[2]

ہم نے خطا میں نہ کی تم نے عطا میں نہ کی
کوئی کمی سرورا تم پہ کروڑوں دُرود

وضاحت: اے خوږه کريم آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مونږه ډير ګناهونه او نافرمانئ وکړې، ستاسو په ذات باندې دې په کروړونو دردونه وي! د دې باوجود تاسو په مونږ باندې په خپلو عطاګانو کښې هيڅ کمے ونکړو-

## بهترين سوداګر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ښکلو اخلاقو کښې دا هم دي چې هغوئي په معاملو کښې اسانئ کولو والا وو- په مسندِ امام احمد کښې روايت دے: يو ځل حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د يو ګس نه زمکه واخسته- هغهٔ خو سودا وکړه خو پيسې يې وانخستې- چې ډيرې ورځې تيرې شوې نو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ

---

[1]... (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطّبَرانی ج ۴ ص ۱۸ حديث ۵۰۶۴ دار الفکر بيروت)-
[2]... (اَلْمُستَدرَک لِلْحاکِم ج ۳ ص۱۲ حديث ۳۲۱۵ دار المعرفة بيروت ) -

اللّٰهُ عَنْهُ د هغهٔ خوا له تشريف يوړلو او اوئې فرمائيل: د زمکې قيمت ولې نه اخلې؟ هغهٔ عرض وکړو: عالي جاه! زما سره خو دهوکه وشوه، خلق ما ملامته کوي (مثلاً وائي چې تا زمکه ډيره ارزانه خرڅه کړه)- حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ووفرمائيل: ښه! څکه سودا نه پوره کوې- اوئې وئيل: آؤ جي- اوئې فرمائيل: ستا سره پهٔ زمکه او مال کښې اختيار دے، که غواړې نو سودا ختمه کړه او که غواړې نو رقم واخله- ما د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: اَدْخَلَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ رَجُلًا كَانَ سَهْلًا مُشْتَرِيًا وَ بَائِعًا يعني الله پاک هٰغه بنده جنَّت ته داخلوي څوک چې اسان اخستونکے او اسان خرڅوونکے وي- (1)

## د قيامت پهٔ ورځ د معافئ مونډلو نُسخه

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې کوم بنده پهٔ اخستو او خرڅولو کښې ضد نه کوي، اسانه معامله کوونکے وي، هغهٔ د جنَّت حقدار دے او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ اخستو او خرڅولو کښې اسانئ کولو والا وو- مونږ له هم دا صفت اختيارول پکار دي، پهٔ مونږ کښې تقريباً هر يو کَس څهٔ نا څهٔ اخلي او خرڅوي- پکار ده چې اسانه معامله وکړے شي، بعضې خلق د ضدي طبيعت والا وي، چې اخستل کوي نو انښلي، د قيت پهٔ کمولو کښې ډير زيات بحث کوي، تر يو حده پورې بحث کول صحيح دي بلکې قيمت کمولو ته سُنَّت هم وئيلے شوي دي خو پهٔ دې باندې انښتل، دا د اخلاقو خلاف کار دے، داسې بعضې دکانداران ضدي قِسمه وي، ليکل يې لګولي وي چې اخستے شوے مال به واپس نه اخستے کيږي- پهٔ دې کښې هم څهٔ ګنجائش ساتل پکار دي- د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، مالِکِ جنَّت، رسولِ رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د يو مسلمان سره اِقاله وکړه (مثلاً خرڅ

---

1 ... (مسند امام احمد)۔

کړے شوے سامان يې ترينه واپس واخستو)، د قيامت په ورځ به الله پاک د هغهٔ غلطي معاف کوي- (1)

د اخستو او خرڅولو وغيره په وخت چې د دوو کسانو ترمينځه کوم عقد (يعني په خپل مينځ کښې سودا تاکلے) کيږي، د هغې ختمولو ته اِقَاله وئيلے شي- شريعت باقاعده د دې اُصُول او ضابطې جوړې کړې دي، څوک چې هم څهٔ اخلي يا خرڅوي، هغهٔ ته د دې احکام زده کول پکار دي، دې د پاره د بهارِ شريعت يولسمه حصه ولولئ! او په مَدَني چينل باندې چليدونکې سلسله اَحکامِ تجارت ګورئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير زيات دِيني معلومات به درته حاصل شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ پاک مَحَبَّت، په عبادت کښې مزه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په 23 سيپاره، سوره زُمَر، آيت: 9 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّ قَآىِٕمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَ يَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖؕ

(پاره 23، الزمر:9)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا هُغه کس کوم چې د سجدے او قيام په حالت کښې د شپې وختونه په فرمانبردارئ کښې تيروي، د آخرت نه ويريږي او د خپل رب د رحمت اُميد ساتي (آيا هغهٔ به د نافرمانو په شان شي؟)

د يو قول مطابق دا آيت مبارک د مسلمانانو د دريم خليفه، اَمِيرُ الْمُؤمِنِين **حضرت عثمانِ**

1… ابن ماجه، کتاب التجارات، باب الاقالة، صفحه:352، حديث:2199-

غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په شان کښې نازل شو- [1] او په دې آیت کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ درې صفتونه بیان کړے شوي دي: **(1): حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شپې په کثرت سره سجدې کوونکے، نمونځونه ادا کوونکے دے **(2): حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د آخرت نه ډیر ویریدونکے دے **(3): حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د الله پاک د رحمت نه ډیر اُمّید لرونکے دے-

د **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کور وداني محترمه فرمائي: حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به ټوله شپه عبادت کولو او په یو رکعت کښې به یې د ټول قرآن تلاوت کولو- [2]

حضرت زُبَیر بن عبد الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: **اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به همیشه روژې نیولې، د شپې په اولنۍ حصه کښې به یې لږ وخت ارام کولو، بیا به یې ټوله شپه په عبادت کښې تیروله- [3] حضرت عبد الله تیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یوه شپه زۀ د کعبې شریفې په خوا کښې ووم، ما د ماسخوتن نمونځ ادا کړو، بیا د مقامِ ابراهیم په خوا کښې ودریدم، په دې کښې اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تشریف راوړلو، هغوئي د سورۀ فاتحه نه د قرآنِ کریم تلاوت شروع کړو او تلاوت یې کولو، کولو، تر دې پورې چې د ټول قرآنِ کریم تلاوت یې وکړو- [4]

کاش چې د امیرُ المؤمِنین حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په وسیله مو د قرآنِ کریم سره مَحَبَّت نصیب شي، کاش چې مونږ هم شپه او ورځ د قرآنِ کریم تلاوت کوونکي جوړ شو- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

[1]... صراطُ الجنان، پاره:23، الزمر، تحت الآیه:9، جلد:8، صفحه:438-439 ماخوذاً-

[2]... الزہد امام احمد، زُہد:عثمان بن عفان، صفحه:105، حدیث:673-

[3]... مصنف ابن ابی شیبه، کتاب:صلاۃ التطوع، باب :بقیام اللیل، جلد:2، صفحه:173، حدیث:6-

[4]... زُہد لابن المبارک، باب: فضل ذکر الله، صفحه:452، حدیث:1276 خلاصةً-

## د بیان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د ښو ښو اخلاقو په باره کښې واوریدل ❁ هغوئي پوخ ایمان والا وو ❁ ټول عمر یې تقویٰ اختیار کړه ❁ ډیر حیادار وو ❁ د الله پاک د رضا د پاره ناقلاره اوسیدونکے وو ❁ د دُنیا سره رغبت نه لرونکے وو ❁ معاف کوونکے وو ❁ بهترین سوداګر وو، په اخستو او خرڅولو کښې اسانې معاملې کولو والا وو ❁ نیک وو، عبادت ګزار وو ❁ په کثرت سره نفلونه ادا کوونکے وو ❁ د قرآنِ مجید تلاوت کوونکے وو- د دې نه علاوه هم د هغوئي نور ډیر ښه ښه اخلاق دي، الله پاک دې مونږ ته هم د داسې پاکو اخلاقو اختیارولو توفیق راعطا کړي- په 18 ذو الحج د عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَـنْهُ ورځ ده- په دغه ورځ باندې په کورونو کښې، په دکانونو کښې، دفترونو وغیره کښې د هغوئي د ایصالِ ثواب ترکیب جوړ کړئ! د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ ډیره ښکلې رساله ده: کراماتِ عثمانِ غني- دا رساله د مکـتبة الـمدینه نه وغواړئ! یا یې د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.com نه ډاؤنډ لوډ کړئ! پخپله یې هم ولولئ او کور والؤ ته یې هم واوروئ! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د ورځې په موقع د دې رسالې نه درس ورکړئ! ملګرو دوستانو ته هم د دې رسالې د لوستلو ترغیب ورکړئ! که ممکن وي نو دا رساله تقسیم کړئ او ثواب حاصل کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فیضان به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مَدَني کورسز

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د فتنو نه ډک په دې وَسني وخت کښې د عاشقانِ

رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول د څۀ نعمت نه کم نه دے دا ماحول که يو خوا ❀ د الله پاک د حکمونو ❀ د هغۀ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو پابند جوړوي ❀ نو بل خوا د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم مَحَبَّت هم په زړونو کښې زياتوي- د خپلو عقيدو او اعمالو د تحفظ د پاره د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط وساتئ! د دعوتِ اِسلامي په ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ! د دِين او دُنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مَدَني کورسز هم دے-

❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي د دِين نُور تقسيموونکے ديني تحريک دے ❀ کم از کم فرض عِلمِ دِين لکه د اودس، غسل، نـمونځ، جنازې، روژې، زکوٰة وغيره ضروري مسئلې خو دې هر مسلمان زده کړي، دعوتِ اِسلامي د دې اراده لري ❀ د دې مقصد د پاره دعوتِ اِسلامي ډير شارټ کورسونه کوي، لکه ❀ د 7 ورځو فيضانِ نماز کورس ❀ د 7 ورځو د 12 ديني کارونو کورس ❀ د 7 ورځو اِصلاحِ اَعمَال کورس- او نور هم ډير کورسونه کولے شي-

❀ تاسو هم دا مختصر مختصر کورسونه وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ! ډير برکتونه به درنصيب شي ❀ چې دِين زده کړئ نو الله پاک به راضي شي ❀ په رزق کښې به مو برکت راشي ❀ د عِلمِ دِين خزانه به حاصله کړئ ❀ د نيکو ذِهن به مو جوړيږي ❀ د الله پاک عبادت چې په صحيح انداز وکړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ! کرم به هُم کيږي ❀ د شارټ کورسونو دا فائده هم وي چې انسان په غير محسوس انداز کښې ډير څۀ زده کړي ❀ کار روزګار يـې هم نه خرابيږي او په يو څو ورځو کښې ډير معلومات حاصل شي ❀ لکه څنګه چې نـمونځ دے، د دې احکام او مسائل خو دومره ډير دي چې کتابونه ترينه ډک دي، زمونږ په شان خلق به دومره غټ غټ کتابونه څنګه لولي؟ دومره وخت به څنګه اوباسي؟ څکه اسانه

طريقه دا ده چې د 7 ورځو فيضانِ نماز کورس وکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ! د دې غټو کتابونو نچوړ به درته ښودلے کيږي ❁ بيا به مو ديني ماحول هم نصيب شي ❁ د نيکانو خلقو صحبت به مو هم نصيب شي، د دې خپل برکتونه دي۔

## بے لارې شوے ځوي يـې د نيکئ په لار روان شو

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې يو ځلمے کوم چې د مور پلار يو ځوي وو، د غلط صحبت په وجه په چرسو ښبلو راواوړيدو، د کور نه بهر وخت تيرول د هغهٔ معمول وو، چې له وجهې يـې د هغهٔ مور پلار ډير پريشانه وو۔ يوه ورځ يو اِسلامي ورور يو اِسلامي ورور هُغه ځلمے پوهه کړو او هغهٔ ته يـې د 63 ورځو په مَدَني تربيتي کورس کښې د شرکت کولو ترغيب ورکړو، د خوش قِسمتئ له وجهې هغهٔ راضي شو او په تربيتي کورس کښې يـې شرکت وکړو۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! يو څو ورځې پس هُغه ځلمي کور ته فون وکړو چې په تربيتي کورس کښې ډيره مزه محسوسووم، نور دا چې ما د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړې ده، اوس زهٔ د جَمعې سره نـمونځونه ادا کووم، سُنَّت زده کووم او ما ته ډير سکون حاصليږي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د مَدَني تربيتي کورس نه په واپسئ هغهٔ واقعي چې ډير بدل شوے وو۔ ګيره يـې پريښې وه او عمامه يـې په سر کړې وه۔

اِسلامي ورور مخکښې وائي چې د هُغه ځلمي مور په ژړا ژړا کښې د دعوتِ اِسلامي والوو ته دعاګانې کوي چې الله پاک دې دوئي سلامت لري چې د دوئي په کوششونو زما بے لارې شوے ځوي د نيکي لارې مسافر جوړ شو۔

عطائے حبیبِ خدا دِینی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا دِینی ماحول

اگر سنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دِینی ماحول(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# فیضانِ حدیث موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن په نوم د "فیضانِ حدیث" په **Play Store** او **App Store** باندې وړاندې کړے شوے دے- په دې ایپلي کیشن کښې تاسو د حدیثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❀ مِشْکٰوۃُ الْمَصَابِیْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح ❀ الأربَعِیْنِ النّوویّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ رِیاضُ الصَّالِحِین د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ أَربَعِیْنِ حَنَفِیَّه (اردو) ❀ او مُنْتَخَب اَحَادِیث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❀ د دې ایپلي کیشن په مدد سره تاسو حدیثونه مبارک په کتابي شکل کښې (یعنې د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❀ د سرچ آپشن [یعنې د لټولو آپشن] په مرسته حدیثونه مبارک لټولے هم شئ- ❀ په دې کښې د حدیثِ پاک د عربي متن د اعرابو سره او د اعرابو نه بغیر، په دواړه قِسم د کتلو سهولت کینبودے شوے دے ❀ د لوستلو د نوټس **Notes** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حدیثونو د **Favorite** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❀ د مختلف فاؤنټس **Fonts** او د حدیثونو د شیئر **Share** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! ښچپله هم د حدیثِ پاک فیضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغیب ورکړئ!

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:646۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاكره كوي، د راتلونكې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! هفته واره مَدَني مذاكره كيږي، پهٔ كومه كښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاكره كښې ېځپله هم شركت وكړئ او نورو له دې هم دعوت وركړئ ❁ هفته واره رساله مطالعه هم پهٔ 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار دے- هره هفته پهٔ مَدَني مذاكره كښې د يوې رسالې لوستو اعلان كيږي، پهٔ راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به د رساله فيضانِ ابو عطّار اعلان كولے شي- دا رساله ېځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (**Share**) كړي! ❁ د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښكلې رساله ده كراماتِ عثمانِ غني، پهٔ كومه كښې چې هغوئي د مسلمانانو د دريم خليفه اَمِيرُ المؤمِنين حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سيرت مبارک مختلف اړخونه بيان كړي دي- دا رساله د مكـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ 25 روپۍ پهٔ بيعه اخستے شئ، هم نن دا رساله واخلئ! ېځپله يـې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب وركړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو

ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## غوښه خوړل سُنَّت دي

**د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامین مبارک:** (1) غوښه د دُنیا او د آخرت د خوراکونو سرداره ده-[2] (2) غوښه په چاړه باندې د کټ کولو سره نه (بلکې په غاښونو باندې) راشوکوئ او خورئ، دا ډیره خوندوره ده-[3]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حلاله غوښه خوړل هم سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي، علمائے کرام فرمائي: غوښه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوښ خوراک وو-[4] ❁ د چیلۍ، چرګ، اوښ، سویې [یعني د خرګوش]، او د مهي [یعني کب] غوښه خوړل د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ثابت دي-[5] ❁ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چیلۍ د ثټ،[6] مَتهو (یعني د مخکښینو ښپو)،[7] او د هغې د

---

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2... معجم اوسط، جلد:7، صفحه:271-

3... ابو داود، کتاب الاطعمة، باب فی اکل اللحم، صفحه:597، حدیث:3778-

4... المواہب اللدنیه، المقصد الثالث، الفصل الثالث...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:2، صفحه:128 -

5... المواہب اللدنیه، المقصد الثالث، الفصل الثالث...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:2، صفحه:130 -

6... مسند امام احمد، مسند النساء، جلد:11، صفحه:168، حدیث:27790-

7... ترمذی، کتب الاطعمة، باب ماجاء ای اللحم...الخ، صفحه:455، حدیث:1837-

ورنانو [يعني پتونانو] غوښه خوښه وه- (1)

**د غوښې فائدے او احتياطونه:** ❁ علامه احمد بن محمد قَسطَلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ليکي: د چيلۍ د ټولو نه سپک خوراک د خټې، د مځکښينو ښپو او اوګو وي، دا د معدې د پاره سپک وي او زر هضميږي- (2) ❁ غوښه بدن ته پروټين، آئرن، وټامن ***B*** وغيره ورکوي او وټامن ***A*** او ***B*** د هډوکو، غاښونو، سترګو، دماغو او خرمن د پاره فائده مند دي- (3) ❁ غوښه وينه صفا کوي ❁ 70 قوتونه زياتوي ❁ او د دې د خوړلو سره عقل زياتيږي- (4) ❁ غوښه د اوريدو طاقت زياتوي- ❁ البته د ډيرې غوښې خوړلو نه ځان ساتل پکار دي چې ډيره غوښه خوړل د زړهٔ د سخت والي سبب دے- (5) ❁ د دې زيات استعمال د کينسر، د زړهٔ د مرضونو، شوګر، معدې او د ځيګر (***Liver***) د بيمارو سبب جوړيدے شي- (6) ❁ بالغو ګسانو ته د ورځې 70 ګرمه او پهٔ هفته کښې 500 ګرامه يعني نيم کلو غوښه خوړل پکار دي- د هفتې درې يا د دې نه زيات ځل پهٔ غوښه خوړونکو ګسانو کښې د مختلفو بيمارو امکانات زياتيږي- (7)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الــمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو

---

[1]… بخاری، کتاب احادیث الانبیا، باب قول اللہ تعالی وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا…الخ، صفحہ:851، حدیث:3340۔

[2]… المواہب اللدنیہ، المقصد الثالث، الفصل الثالث…الخ، النوع الاول…الخ، جلد:2، صفحہ:129 ۔

[3]… ماہنامہ فیضان مدینہ، اگست 2019، صفحہ:53۔

[4]… مدارج النبوۃ، باب یاز دہم در عبادات و طعام و شراب وغیرہ، جز:1، صفحہ:458 ملتقطاً۔

[5]… مدارج النبوۃ، باب یاز دہم در عبادات و طعام و شراب وغیرہ، جز:1، صفحہ:458 ۔

[6]… ماہنامہ فیضان مدینہ، اگست 2019، صفحہ:54۔

[7]… ماہنامہ فیضان مدینہ، اگست 2019، صفحہ:54۔

ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| علم حاصل کرو، جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو |
| سنتیں سیکھنے تین دِن کیلئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو[1] |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

[1]... وسائل بخشش، صفحہ:669، 670 ملتقطاً-